نظرمحمد مطمئن ٢٠١٣/١١/٢۴

# مشورتي لويې جرګې ته د ولسمشر کرزي وروستی وینا

د ښاغلي کرزي د وینا مهم ټکي
له پریکړه لیک څخه مننه کوم
نن سهار جلال آباد کي چاودنه دوه نفره مړه او څو نفره زخمیان شول
په پیلیزه وینا کي مي وویل چي افغانان له نړیوالو سره دوستي غواړی
د لاسلیک له پاره د ترون که جرګه موافقه وکړي او ولسي جرګي ومنله، د تطبیق مراحل به په نظر کي ونیسو، امنیت، سوله او شفاف انتخابات مراحل دی
امنیت او سوله تاسي هم په نظر کي نیولي ده، خوشاله یم سوله او امنیت کله، همدا نن ورځ یا لس یا پنځلس ورځي وروسته، همدا نن امنیت غواړو
امریکا ته د اېو سپارل اسانه کار هم نه دی، او زما غیرت یي په خدای  قسم نه منی، مګر مجبوریت لرو
داچي آډي ورکوو، امنیت او سوله ورڅخه غواړو
زموږ په کورونو له نن څخه وروسته عملیات نه د ورځي او نه د شپي کولای شي
د جرګي به ناسته کي امریکا په جلال آباد کي عملیات وکړل، دامریکا عملیات نور زموږ پر کورونو خلاص شول
که یو وار هم عملیات وکړي بیا قرارداد نه کیږي
د امریکا سفیر ناست دی اوري که یو وار بیا دوی عملیات وکړی قرارداد نشته که طالب دی که تروریست دی موږ سره پوهیږو امریکا دي پر موږ کار نه لری موږ دي سره پریږدي. د امریکا عملیات سره له ننه بند دی او په کورونو کي ارام کینی
دوهم سوله ده له دي مخکي رحیمي صاحب د امنیتي ستونزو راپور راوړئ، له جرګي یوه میاشت مخکي د طالب په نوم ډیر بي ګناه کسان مړه شول، دا ډول عسکر، ولسي کسان، دا ټول افغانان وو
د جرګي په اړه چي مو داډ ورکی د ١۴ ورځو راپور ملکي، امنیتي، پولس او اردو د تلفاتو شمیر ډیر کم وو
پرون ورځ د یو نفر پولیس د مرګ خبره راکړل شوه. له دي وروسته هم باید همداسي پاتي شي، او امنیت بیا ځل خراب نه شي
د افغانستان سوله: اول د امریکا او دویم د پاکستان په لاس کي ده، او داثابته ده ماته، ډیر زیات دلیلونه د خپل اثبات له پاره لرم
اوس د امریکا چاره باید وکړ، د پاکستان چاره موږ وروسته هم کولای شو، د امنیتي ستونزو په برخه کي
د قطر د دفتر د خلاصون په اړه چي موږ یي مخالف وو، موږ شک درلود چي دا دفتر بل هدف لري، چي د افغانستان حکومت او د اسلامی امارت به وي، موږ یو شي غواړو، د افغانستان حکومت
د قطر دفتر لړ مخکي موږ امریکا ته وویل چي یو خط راکړئ چي دا یوه علیحده حکومت نه دی، اوی خط راکی، اوس یي تاسي ته وایم
موږ د افغانستان له حکومت سره موافق یو، یواځي د سولي عالي شورا سره د سولي د خبرو له پاره خلاصیږي، دا دفتر نه سفارت، نه امارت او نه حاکمیت دی
مګر موږ په اوله ورځ د امارت بیرغ او لوحه ولیدله، که دا سند له موږ سره نه وای موږ بایللی وه، همدا سند وو چي موږ بیرغ او لوحه ایسته کړه. موږ ته وویل شول که طالبانو ته یوه سیمه ورکول شی، موږ وویل چي له موږ سره دی په حکومت کي شریک شي، یوه سیمه په لاس کي نه ورکوو
هغه خلک چي له طالبانو سره تماس کي وو
ضعیف صاحب مي ولید او راومي غوښت چي تاسي ته هم داسي وړاندیزونه شوي، هغه وویل چي هو، ومي ویل آفرین، ورته مي وویل چي بیانیه دی طالبان ورکړي او هغوی د افغانستان تجزیه رد کړه
موږ سوله غواړو، او تجزیه نه غواړو، که امریکا صادقانه وغواړی سوله کیږي د سولي اړوند ډیري خبري دی خو کمي مي کړي
انتخابات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

د جرگې له دايريدو درې ورځې مخکې موږ د امريکا له سفير او جنرال ډانفر سره خبري کولي په دريمه ماده جوړ نه شو، چي د دوی نظامي عمليات د افغانانو په کورونو وو، سره جوړ نه شو. سفير ته مي وويل چي څه عجله لرئ، ولي انتظار نه کوي نوی حکومت ته، هغه وويل چي نه انتظار نه شو کولای، ويې ويل چي موږ خپل پروګرام لرو، د دی امکان شته چي انتخابات اول ځل سم نه وی، دويم ځل ته وځنديږي او کيدای شي چي ۶ مياشتي وخت ونيسي، دلته مي خبره مغزو ته ولاړه

چي بيا همداسي چل راسره کوی لکه تير ځل او بيا به خپل شرطونه راباندي مني. جان کيري وويل چي دويم روند ته ولاړشئ او انتخابات دويم ځل ته بيايو، مګر دويم روند ونه شو، او ما اوه کلونه حکومت کړی وو، شناخت مي په افغان جامعه کي درلود، که بيا هم د انتخاباتو اول روند کامياب نه شي، دويم روند ته ولاړشي، زموږ وخت به پوره وي، او افغانستان به پرته له جمهور رئيس څخه پاتي وي

موږ له نړيوالو غواړو که اول وار انتخابات يو نفر کامياب نه شي، دويم ځل بايد په دوه هفتو کي وشي، تر څو دمعاملي مخه ونيول شي

امريکاته پيغام ليږم، افغانانو ستاسو سره خپله دوستی ثابته کړه، جرګي اعلان وکی چي تړون کوو، باميان خلکو وويل چي موږ ته هم يوه آډه راکړئ، دا معنی چي غواړو تړون وکړو

امريکا او متحدين يې بايد صادق وي چي زموږ سره د تړون مادي عملي کړي، او امريکا ولس ته وايم،

د تړون د تطبيق مراحل بايد ووينو، ماته اجازه راکړئ چي سياست وکړم، چي امنيت شته، سوله او انتخابات، که سوله نه وی انتخابات خراب شي مملکت مو ولاړی. دا زموږ وظيفه ده چي افغان ملت له دغه ډول عاقبت څخه وساتو

يوه ښځه وايي چي جنګ تاسي په افغانستان کي شروع کړی

کرزی: جنګ که موږ شروع کړی وی موږ يې ختمولای شو

امنيت غواړو، سوله غواړو، ښه انتخابات غواړو، تاسي غوښتي چي امضاء په يوه مياشت کي وکړم، په يوه مياشت کي سوله راتلای شي، که زه امضاء وکړم او سوله رانه شي بيا ملامت څوک دی؟ ځواب راکړئ، ملامت به څوک وي؟ ضمانتونه غواړو، بلي موضوع ته راځم

يو نفر خبري کوي نه اوريدل کيږي چي څه وايي، جنرال هزاره

په ټلويزيونو کي دي ماته هم ډير ښکنځل کړي، افرين

د امريکا اډي منظور شوي، ملت ته يې وايو اوس دي دوی وعدي ثابتي کړي

دجرګي خلکو! دا پريکړه ليک ستاسي دی، څوک خو مخالف نه شته؟ لاسونه پورته کړئ؟

ځيني کسان ولاړ شول او سوالونه لري، نه اوريدل کيږي

کرزی: تجاوز تعريف په اړه مو له امريکا سره ډيري خبري وکړي چي تجاوز تعريف شي، امريکا به له افغانستان سره د تجاوز په برخه کي کمک کوي، کله چي پاکستان حمله وکړه امريکا پيره وکړه، موږ به پوښتنه کوو

يو سړی وايي چي امريکا مستامين دی، که ذمي يا يرغلګر

کرزي ته په غوږ کي ويل کيږي مستامين، مستامين

جرګه کي ګډوډی شو

کرزی:دستی ځواب درکوم، اجازه راکړي مولوي صاحب سم سوال وکړی، د بيان ازادی ده، که په ۵۰ کميټو کي هم تاسي اجازه نه وي ورکړی بيا دا پريکړه ليک هم سم نه دی

تاسي اوس د لوګر موسي ته نه شي تللای، په هلمند او پکتيکا کي ولسوالي ستاسي په لاس کی نه دي، داچي موږ سوله غواړو چي ټول موافق شي، مخالف نظرونه په دي خاوره کي شته بايد احترام ورته ولرو

اکثريت تړون تايد کړی او مخالفان هم لری، زه يې د تطبيق مرحله غواړم، چي سوله راشي که سوله رانه شي دا تړون د افغانستان د بدبختي سبب کيږي. که سوله راشي زه په دواړو سترګو تړون امضاء کوم

امنتي کسانو ستاسي د امنيت له پاره زيات زحمت کښلي دی، مبارکي ورته وايم

دکابل ښاريانو د سولي له پاره ستونزي ګاللی نه د تړون له پاره

مننه ، سرلوړي او خوشاله اوسئ

زه د تړون د تطبيق له پاره اماده يم چي مراحل د تطبيق يي وشي

جرګه کي ناري شوي، دجرګي غړي غواړی چي سوالونه وکړي خو کرزي کشته شو، او کښيناست

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ